مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عزیز نائیبي ۲۰۲۴/۰۴/۲۶

# اوس د چا ګرېوان ته لاس کړو

چې د مور وطن له غېږې یې کړو په تېښته
ها د ثور برېتور انقلابیان
یا غوايي باندې سپاره مست جهادیان
د یو بل پر بام چې واورې غورځوینه
تکنوکرات، دیموکراتان که ملایان
شورویان، امریکایان شول په مورې ستړي
ګاونډیان مو سر ته ناست دي غلیمان
پاکستان او ایران ډیر یو مورې ځپلي
چینایان مو خزانو پسې سرګردان
ائ زما د نړۍ بام خوږه هېواده
په قسمت دې دا څو کاله وو غوایان
خدای دې بیا اورو کې ښکېل نکړي وطنه
راپیدا به شي امان یا داود خان

۲۶/۴/۲۰۲۴



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ